داکتر عبدالحی نیازی ۲۰۰۸/۰۲/۲۳م

# د ملت جوړوني بهیر ته یوه کره کتنه

د علمی، سیاسی، اقتصادی او ټولنیزو ا صطلاحاتو مفاهیم تل د بدلون په حال کې دي او د ځینو اصطلاحاتو لغوی معنی د هغه بشپړه مفهوم افاده کولای نشي.
د یوې علمی اصطلاح د تعریف په هکله هغه وخت ستونزه رامنځ ته کیږي چې هغه سره له یوې خوا ایدیالوژیکه برخورد وشي او د بلې خوا په انسکلوپیدیا ( دائرتالمعارف) او تکست بوک ( تعلیمی کتاب) کې هم یو شان استندرد تعریف ونه لري او یا دهغه تعریف مذهبی بڼه غوره کړي. زموږ په ټولنیز ادبیاتو کې د ملت عربی کلمه ژور اوږد تاریخی مذهبی معنی لری او د ملت سیاسی کلیمه زموږ په معاصرسیاسی ادبیاتو کې کلمه د نیشن د لاتیني کلمي سره نژدې اړخ لګوي او مفهوم ترې اخستل کیږی.
د افغانستان په سیاسی، ادبی او مذهبی ادبیاتو کې د ملت کلمه یو شان استعمالیږی بی له دې چې مذهبی مفهوم او سیاسی مفهوم یی سره بیل شي. د مثال په توګه د افغانستان اهل هنود اتباع دملت په مذهبی مفهوم کې شامل نه دی خو د ملت په سیاسی مفهوم کې شامل دی.
ملت یا نیشن هم د هغو ستونزمنو اصطلاحاتو له جملې څخه ده چې دهغه بشپړ او جامع تعریف یی چې د نړۍ د ټولو هیوادونو په ولسونو کې پوره قابل د تطبیق وي په سیاسی ا دبیاتو کې نشته خو د ملت تیوریک تعریف یواځې په یو شمیر اروپایی هیوادونوکې قابل د پلي کیدو دی او په یو شمیر نورو هیوادونوکې تریوه اندازې پورې او په هغو هیوادونو کې چې قومی جوړښتونه یی په منظمه توګه موجود وي د ملت تیوریک تعریف قابل د تطبیق نه ده ځکه چې د ملت جوړوني بهیر د نړۍ په ټولو هیوادونو کې یوشان وده او تکامل نه کوي. که څه هم د ملت جوړوني پړاونه په ټولو هیوادونو کې لاتر اوسه پورې خپلې بشپړه تاریخی مراحل نه دې بشپړ کړی سره له دې هم د ملت کلمي په ټولو هیوادونو په سیاسی ادبیاتو کې استعمالیږي خو د ملت د تعریف څخه د ټولو هیوادونو د ولسونو اخستنه یو شان نه ده ځکه چې ملت جوړید په یوه هیواد کې یوه اوږد پرګما تیک یا عملی تاریخی پروسه ده چې د هیواد میشتو اقوامو او د ولس بیلابیلو اقشارو،مذاهبو او طبقو په تدریجی توګه سره انتیګریت یا ګډ کیږي چې دا پروسه د هیواد هر اړخیزې سیاسی . اقتصادی او ټولنیزې ودې ته اړتیا لری چې دغه شرایط په ټولو هیوادونوکې یو شان نه برابریږي.

د ملت عربی کلمه په مذهبی لحاظ د امت، پیرو ، شعب اوقوم سره نژدی معنی افاده کوی خو د ملت ابراهیم مفهوم د حضرت ابراهیم علیه سلام د سنت او طریقې پیراوی کول دی. حضرت محمد(ص) د سلام د مقدس دین څخه د مخه د خپل جد حضرت ابراهیم علیه اسلام پیرو ؤ او نو په سنتي توګه ټول اهل سنت او جماعت د حضرت ابراهیم خلیل الله په ملت کې شامل دی. نو ځکه د ملت یا نیشن سیاسی مفهوم د هغه د مذهبی مفهوم سره توپیر لری او سمون نه خوری. ننی نړۍ تقریباً په یوسلو نوی هیوادونو کې سره ویشل شوی دي او د هر اسلامی یا غیر اسلامی هیواد په وګړو کې د نیشن یا ملت کلمه استعمالیږی که څه هم د ملت جوړوني په مختلفو مراحلو کې ځای لري او په ورځنی مطبوعاتو کې د ملت ، هیواد ، دولت او ولس – ستیت، کلمو په مترادفه توګه اسعمالیږی.
لازمه ده چې د ملت سیاسی کلمه د سیاسی مفهموم په لحاظ د ولس ، وګړي ، پرګنو ، خلک ، قوم او قبیلې سره هم توپیر او تفکیک شی.
همدا راز لازمه ده چې د ملت جوړوني پروسي د هیواد جوړوني سره تفکیک او توپیر شی ځکه چې هیواد جوړوني درې زره کاله دمخه د سیاسی واکمنی د تینګښت سره سم د فیودالی مرحلې په اوایلو کې منځ ته راغلی او ملت جوړوني د فرانسي د بورژواری انقلاب (۱۷۸۹-۱۷۹۹) لاسته راوړنه ده. هیواد په یوه محدوده جغرافیایی سیمه کې د یوه قوم یا ډلې یی د سیاسی او نظامی زوریعني د سیاسی حاکمیت په اساس منځ ته راځي خو ملت جوړوني یوه منطقی تاریخی پروسه په یو هیواد وي چې سوله ییز سیاسی ، اقتصادی او ټولیزې ودې ته اړتیا لری ترڅو چې نیشن- ستیت حالت په( نیشن هود) بدل شي. داتلسمې پیړی په وروستیو لسیزو کې دانګلستان او فرانسي له انقلابونو څخه وروسته په اروپایی هیوادونو کې دسیاسی ، اقتصادی او ټولنیز ودې سره سم دملي هویت پر بنسټ دمعاصرو دولتونو له انکشاف سر سم ملتونه وزیږیدل. ملی هویت د نیشنل-ستیت بنسټ دی چې سیاسی ، حقوقی ، او کلتوری اړخونه لری چې دهیواد ټول یو اتباع یو شان ځینې مستفید کیږی.


افغان جرمن آنلاین شما را صمیمانه به همکاری دعوت می نماید. لطفاً به آدرس ذیل با ما تماس بگیرید
maqalat@afghan-german.de

د انتروپولوژی او سوسیالوژی د علم له مخې قوم ، قبیله ، اتنیک ګروپ او اتنیسیتی یوه بشری طبعی ټولنیز جوړښت دی چې ګډ جنیتیک یا بیولوژیک ریښې او کلتور لري خو ملتونه جوړیږی او د ملت جوړونې په وړاندې قومی، نژادی، مذهبی او کلتوری توبیرونه خنډ ګرځیدلی نشي په دې شراط چې ولس په یو هیواد کې تر واحد سیاسی واکمنۍ او قانون لاندې ژوند وکړي. قوم او قبیله چې د فیودالي ټولنې یوه ټولنیز جوړښت دی خو تل پاتې نه دی او هرڅومره چې ټولنه د بورژوازي اړیکو په لور وده وکړي او ښا ري کلتور منځ ته راشي قومی جوړښتونه خپل سیاسی اهمیت بایلي او د ملت جوړونې په پروسه کې مدغم کیږی او ملی هویت د قومی هویت ځای نیسی. کله چې ملت جوړ شي قومی هویت یواځې د هیواد د ټولنیز جوړښت ځرنګوالي ځرګندوی او د ملی کلتور د قدامت او غنا ریښې او بنسټ جوړوی، د بلې خوا خدای (ج) بنې آدم د اقوامو او قبایلو په ډول خلق کړي دي چې یو د بل سره ښه تعارف او پیژنګلوی پیداکړي چې دهغه عالی مرحله په هیواونو کې ملتونه دی چې په هیوادونو کې د ملی هویت په اساس ملتونه سره معرفت او پیژنګلوی پیداکوی.

په یوه هیواد کې د ملت جوړونې د ودې بهیر د مدنې ټولنې د جوړولو د پرمختګ لور ، ټولنیز او سیاسی ودې د پوخوالې نښه ګڼل کیږی.په هیوادونوکې د ملتونو جوړیدل بهیر د شلمې پیړی رینسانس( نوالې بیا زیږیدنه) په توګه منل شوې ده او د ملت سمبولیک ښیرازه ملی هویت دی.

نیشن د نیتس (۱) او نتیو(۲) د لاتنې کلمې څخه اخیستل شوی ده چې د تولد یا زیږیدنه معنی لری او دفرانسې د انقلاب څخه وروسته دخپل لغوی منعی څخه اوښتی دی او ننی سیاسی معنی او مفهوم غوره کړی. نیتف (۳) د سیمې هغه لومړنی میشت ډله د ولس ته وایی چې ګډ پلارنی او نژادی ریښې لری چې نن کوم ځانګړی سیاسی معنی نه لری.

د نیشن کلمه د لومړی ځل د پاره په ۱۳۴۹ میلادی کال په مطبوعات کې د پاریس د پراګ(۴) دپوهنتون په هغو محصلینو باندې استعمال شوې چې فرانسوی ریښې نه درلوده لکه پولش نیشن او ساکسن نیشن او په هم دې توکه محصلین په هیواد پورې تړل کیدلو . ملت په انګلیسی کې نیشن ، په فرانسوی کې نسیون ، په ختیز اروپای ژبو کې ناتسې ویل کیږی.

د ملت اکادیمیک او جامع تعریف ډیره ستونزمنه ده ځکه چې یوې خوا د ملت جوړونې پروسه د نړی په ټولو هیواونو کې یو شان بشپړ شوې نه ده او د بلې خوا له د ملت تعریف ایدیالوژیکه بڼه غوره کړی ده. کمونستان د ملت په جوړیدو باور نه لري او د ملت پر ځای د ولس ، خلک او پرګنو اصلاحات په سیاسی توګه په مطبوعات کې استعمالوی او د دریم نړی په هیوادونوکې چې هلته د ملت د جوړونې پروسه بشپړه شوې نه ده د ولس په ذهن کې د ملت د جوړیدو څخه کوم عملی فزیکې انځور نشته او خلک د ولس ، قوم ، قبیلې او ملت تر منځ سیاسی توپیر کولای نشي خو د ملت اکادیمیک تعریف په اروپایی هیوادونو کې د بلې کیدو وړ ده. د ملت سیاسی اصطلاح کلاسیک بڼه په یوه هیواد کې په هغه ولس باندې استعمالیږي چې د هیواد ولس په یوه درې مرحله ییز تاریخی تدریجی پروسه شامل شوي وي چې بیلابیلو اقوامو ، مذاهبو او دودونو او کلتورونو سره لومړی د نشنل انتیګریشن پلان په اساس په کلتوری، سیاسی او اقتصادی سره انتیګریت (٤ )( مدغم ، امتزاج او ګډ) شي یعنې قومی جوړښتونه مات شي او د هیواد بیلابیلو میشتو اقوام یو دبل په مقابل کې د زغم او تحمل فرهنګ غوره ګړي . په اروپایی هیوادونو کې د مهاجرینو د انتیګریشن پلانونه جوړیږی. دوم دولس اسیملیشن مرحله ده چې ټول ولس په ټولنه کې هظم او جذب کیږي او د قانون په وړاندې یو شان کیږي او دریمه مرحله نچرلایزشن یا په طبعی توګه د هیواد تبعه او د ملت یو فرد کیږي چې فرد په هیواد کې هیڅ دول سیمه ییز یا قومی هویت نه لری او یواځې ملی هویت لري. په اروپاکې د اقوامو انتیګریشن په خلورم میلادی پیړی کې پیل شو د مثال په توګه د انګلو او ساکسن د اقوامو د ادغام څخه د ننی انګلیس ملت منځ ته راغلی دي. په اروپایی هیوادونو کې د اقوامو د انتیګریشن ډیر مثالونه شته او اقوام سره پوره ګډ شوی دي تر دې حده پورې چې نن په اروپا کې د وګړو په ذهن کې د قوم او قبله تصور یا انځور نشته. د ملت افراد ډیر ګډ اړخونه ، صفتونه ، ملی مسؤلیتونه او تاریخی رسالتونه لری چې د ملی ، سیاسی ، کلتوری او اقتصادی ګټو پر بنسټ باندې ولاړ دي. ملی مسؤلیتونه په حقوقی توګه او ځینو په سمبولیکه توګه د هیواد په اساسی قانون کې بیان کیږي.

نن د دریم نړی په هیوادونو کې د ملت جوړونې د کلاسیکې پروسې په وړاندې ډیرې ستونزې شته چې د ملت جوړونې کلاسیکه پروسته یعنې د اقوامو د تدریجی ادغام په ټولنه کې د ځنډ او خنډ سر مخامخ کړی دی چې د هغه له جملې څخه یوه ستره خنډ د استعمار له خوا هیواد جوړونې دی یعنې یو قوم په یوه هیواد کې اقلیت ده په بل کې اکثریت. بیا د جغرافیایی لانجې په اساس یو دبل په چارو کې مداخله کوي او قومی ګوندونه جوړیږی او دقومی هویت لانجې په سیاسی لحاظ لمن وهل کیږی او د بشری حقوقی قوانینو په اساس هر قوم او قبیله خپل قومی او کلتوری جوړښت او هرقوم کوښښ کوي چې د خپل قومی هویت څخه سیاسی ګټه واخلی بیاپه په هیواد کې د ملت جوړونې


افغان جرمن آنلاین شما را صمیمانه به همکاری دعوت می نماید. لطفاً به آدرس ذیل با ما تماس بگیرید
maqalat@afghan-german.de

لومړی مرحله یعنی انتګریشن یا د اقوامو امتزاج یا ادغام کیدو د ټکر سره مخامخ کیږی او د ملی هویت منل له ستونزو مخامخ کیږی. دوهمه ستونزه استبدادی او دکتاتوری دولتونه دي چې په سیاسی دلایلو قومی تضادونه تشدیدوی تر څو چې خپلې سیاسی واک ټینګ کړي. دریمه ستونزه د دولتونو اقتصادی کمزورتیا ده چې دولت نشی کولای په لویه بیمانه ولسونه په دولتی ادارو ، صنعتی فابریکو ،علمی ،ادبی ، هنری او سپورتی جوړښتونو او کې سره انتګریت یا مدغم کړي. د هیواد غرنی جغرافیایی جوړښت او صعب البور لارې د یوه طبعی دیوال په توګه د هیواد ولسونه سره بیل بیل ساتی او هیواد کې ګڼ شمیر سیمه اییزې دودونه منځته راوړی او اقوام یو دبل څخه سره لری پاته کیږی. که چیرې د دولت له خوا د ملت جوړونې دپاره د امنیتی شرایطو سر بیره اقتصادی، سیاسی او کلتوری ولسی پلوې(دیموکراتیک) قوانین پلې شي په تدریجی توګه قومی جوړښتونه ماتیږی او ګډ ملی ګټې ، کلتور او ملی ارزښتونه منځته راځي. د اقوامو کلتوري ارزښتونه څخه د ملی کلتوربنست اوغنا جوړولی شي چې نباید د هیڅ قوم کلتوري ارزښتونه نه یواځې ونه ځپل شي بلکې د ملی کلتور د یوې برخې په توګه باید وروزل شي.

په شاته پاتې یا دریم نړی هیوادونو کې بله ستونزه په ملت جوړونې د دولت له خوا د حاکمیت ، مصؤنیت او امنیت کمزورتیا ده چې د حقوقی او قضایی قوانینو نیمګړتیاوې په ټولنې کې سبب کیږی چې په کلیو او بانډو کې ولس د خپل امنیت، مصؤنیت او دفاع په خاطر او د خپلې خپل منځی ټولنیزې سیاسی ، اقتصادی او قضایی ستونزې د حل د پاره قومی جرګې او شوراګانې جوړې کړې او خپلې قومی حدود مشخصې کړی او دبل قوم سره داقتصادی، سیاسی اوټولنیزې چارې پربنا په رقابت او خشونت لاس پورې کړی چې دا مساله د اقوامو د انتیګریشن او ادغام کیدلو مخه نیسی او سیاسی ستونزه رامځنته کوی له هغه ځایه چې په ښارونوکې د دولت حاکمیت غښتلی دی او د ولس د حقوقی ، قضایی او امنیتی چارې له دولت له خوا حلیږی. وګړی یو د بل قومی سوابقو ته نه ګوری او د ښارې او مسلکی او اقتصادی وجهې په اساس سره ادغام کیږی. که په ښارونو کې هم دولت امنیت تآمین نه کړی د ښار هستوګنې سیمې په اقوامو ویشل کیږی او ټولنه د سکتاریستی(فرقه یی) فعالیتونو مرکز ګرځي او قومی اونژادی جلاوالې یا (سګریګیشن) منځته راځي. خو په پر مختللو ټولنو کې ښارونه په اقتصادی طبقات سره ویشل کیږي د لوړ کلاس یا طبقه خلک چې ډیرې بیسې او مادی امکانت لری او د متوسطې طبقې خلک او د بې وزلې خلک سیمې چې اقتصادی امکانان نه لری سره جلا جلاژوند کوي او خلک په دارنګه ښارونوکې دا فرادو اقتصادی امکاناتو ته ګوری نه قومی ریښې ته. د قومی جوړښتونو د ماتیدوسره سم وګړي په دولتی او غیردولتی اداراتو کې او با په سپورتی ، هنری او ادب ، علمی او مسلکی ټولنو سره ادغام کیږی.

د دې دپاره چې د ملت جوړونې بهیر ګړندی شي باید د نشنل انتیګریشن د پاره یو ملی پلان او پروګرام د ولس او دولت د شرایط او امکاناتو سره سم په تدریجی ټوګه پلې شي تر څو چې سیاسی قومی جوړښتونه مات شي. ملت جوړونه یوه آګاهانه سیاسی ، حقوقی او ټولنیز راکړه ورکړه معامله یعنی غوښتنه او منل ( ایجاب او قبول) ده. د قومی هویت څخه تیریدل او ملی هویت ترلاسه کول د ملت جوړونه بنسټ ده. د مثال په توګه د آزربایجان قومی هویت ترک دی خو نن د دوی آزربایجانی د ملی هویت په توګه منلی دی . دهیواد څخه د مهاجرت په صورت د ملی هویت نه تیریدل او د یو بل هیواد ملی هویت ترلاسه کول چې نن د نړی په عادی ډول دقاضی په وړاندې په ټولوهیوادونو کې عملی کیږی خو دا پروسه د یو هیواد و بل هیواد مهاجرینو د پاره ده او په قومی هیوادونوکې د میشتو اقوامو ځانګړی انتی کریشن پلان په کار دي. له هغه ځایه چې د هر هیواد قومی ، کلتوری ، سیاسی او اقتصادی جوړښت سره توپیر لری او هر هیواد د ودې په مختلف مرحله کې ځای لری نو یوه عامه فورمولانشته چې په ملت جوړونه په ټولو هیوادونو یو شان تطبیق شي خو بې له شکه ملت جوړونه یوه تاریخی تدریجی مساله ده چې ځانګړې سوسیالوژیک پلان ته اړتیا لری خو د اساسی قانون ، مدنی قواننیو او ټولنیز عدالت ډیر رغنده رول لوبوی. په هیواد کې د ټولنیز عدالت نشتوالې د مذهبی ، سیاسی او اقتصادی ستونزو تر څنګ ډیره عمده برخه لري خپل آبایی ټاټوبې خوشې کوی او د بل هیواد ملی هویت مني چې دا مساله څرګندوی چې عادلانه ژوند په ټولنه کې انسانانوته ترټولو لویه ارزښت دی.

له هغه ځایه چې د هیوادونو ولسی او ټولنیز جوړښت سره توپیر لری د یوه هیواد د ملت جوړونې پروسې په بل هیواد کې قابل د پلې کیدونه ده نو په کار ده چې هر هیواد ټولنیز اوقومی ، مذهبی ، طبقاطی او ولسی جوړښت په ځانګړې توګه وڅیړل شی او د هغه مطابق د ملت جوړونې پلان جوړ شي البته دا باید په ډاګه شي چې نن که د اقوامو د انتیګریشن پلان نه وي بیا به سبا هیواد د چک او سلواک په شان سره بیلیږی.

د ملت جوړونې په پروسه کې ستره مساله د هیواد د منځ ته راتګ څرنګوالې دی چې هیواد څنګه منځ ته راغلې دی او دهیواد نوم اوملی هویت څنګه تثبیت شوی دی؟

د ځنیو هیوادونو جوړیدل لرغونی تاریخی قدامت لری او ځینې هیوادونه د استعمار او تیری لاسته راو ړنه ده. دځینو هیوادونو قومی جوړښت دسیاسی جغرافیا سره مطابقت کوی او د ځینو هیوادونو قومی جوړښت د هیواد د سیاسی


افغان جرمن آنلاین شما را صمیمانه به همکاری دعوت می نماید. لطفاً به آدرس ذیل با ما تماس بگیرید
maqalat@afghan-german.de

جغرافیا سره سمونوالي نه لری نیمایی د یو قوم په یو هیواد دی او نیمایی یی په بل هیواد کي او سیری چي مورنی هیواد د تیری له امله تجزیه شویده او د یوه قوم نیمه برخه په یو هیواد کي اوسیږی او نیمه برخه یی په بل هیواد کي او د ولسونو تر منځ د یوالي احساس ژوندی پاته کیږی همد لته ده چي د ملی هویت بحران منځته راځي چي ملی هویت د دوی اتنیکی هویت سره او د هیوادنی هویت سره مطابقت نه کوي. ملی هویت په حقیقت کي یو سیاسی هویت دی د هیواد په سطحه او ضروره نه ده چي د ټولو اقوامو د قومی هویت سره مطابق وي او عملاً ممکن هم نه ده.
د دین او مذهب هم برخه د ولسونو په انتیګریت کیدو کي ډیر اهمیت لری او د ادغام کیدو پروسه تشدید یا تضعیف کولای شي خو په ملت جوړوني کي خنډ ګرځیدی نشي. په یوه هیواد کي هغه ولسونه چي یو شان مذهب یا دین لری خو په متفاوتو اقوامو پوري اړه لری سره ژر ادغام کیږی نسبت له هغو چي هم په مذهب یا دین او هم قومی ریښي سره توپیر لري. خو په ملت جوړوني کي د یو شمیردولتی سیاسی، حقوقی او ټولنیز ارزښتونه په اګاهانه توګه منل دی. لکه اساسی قانون، ملی هویت او ملی بیرغ او د قانون په وړاندې برابره حقوق او امتیازات.
نن د ژبي ، دین او مذهب توپیر د ملت جوړوني په وړاندي خنډ نه ګڼل کیږی ځکه چي معاصر تاریخ ثابته کړه چي په اروپا کي چي د ملتونو د جوړیدو بهیر تر ډیره حده بشپړشویده په یوه هیواد کي څو ژبي رسمی دی او یا یوه مذهب په هیوادونو کي رسمی دی خو د دریم نړی کي په هیوادونو کي چي هلته ملت نه دې جوړشوی د ژبي او د مذهب توپیر مساله په یوه سیاسی اجندا د ځینو سیاسی ډلو او هیوادونو دپاره بدله شویده مثلاً ایران غواړی چي د فارسی ژبه په اساس خپل سیاسی او نفوذ په افغانستان ، تاجکستان او منځنی اسیا هیوادونو کي خپل تسلط ټینګ کړی خو په اروپا کي نن داسي هڅي لږ لیدل کیږی.
د اروپایی هیوادونو تاریخ ښیي(سویس) چي د ژبي توپیر د ملت جوړوني مخه نه نیسی که چیرې د ژبي مساله په عادلانه توګه دقانون له لارې حل شي. مهاجرین د کوربه هیواد ملی هویت او ژبه مني.
له هغه ځایه چي د ملت د تعریف منل ایدیالوژیک بڼه لري د مارکسیزم د دکتورینو په اساس په هیواد کي د ولسونو ادغام کیدو ملت نه جوړوي ځکه چي مارکس ولس ته په طبقاتي توګه ګوری او ټولنه په دوه نه پخلاکیدونکي طبقي ویشی یعني د کارګر طبقه اود بورژوازی طبقه خو بر عکس د یو هیواد کارګران دبل هیواد کارګران خپل بولی او په تیوریک لحاظ سرحد نه مني او د انترناسیونل شعار پورته کوی او د ملت پرځای په آګاهانه او سیاسی ډول د ولس ، خلک ، وګړو او پرګنو کلمي استمالوی. پخواني شوروی اتحاد خپلو محکوم هیوادونو ولسونو ته ملیتونه ویل چي د معنی په لحاظ ملیت د نیشن معنی او مفهوم افاده کولای نشی او افغان کمونستان ملیت د افغانستان د اقوام د پاره استعمالوی او دکثیرالملیت لغت چي د شوروی اتحاد په جمهوریتونو کي د افتخارپه توګه استعمالیدل په کورکورانه ډول د افغانستان په اقوامو‌باندې استعمالوی چي کوم خاص سیاسی مفهوم نه بیان کوي. پکاره ده چي په سیاسی ادبیاتو کي ملت پالنه(ملت ګرایی) او قبیله ګرایی سره په څرګند ډول سره تفکیک شي او د ملی هویت ارزښت په ټولنه کي تفهیم شي تر څو چي د ملی هویت بحران منځته رانشی. د قومیت پربنا سیاسی هویت غوښته په هیواد کي د ملی هویت د ټینګښت په وړاند ې ستر ننګونه ګڼل کیږی او د ملی هویت بحران تشدیدوي.
اسلامی ګوندونه یا سیاسی اسلام د ملت(نیشن) د سیاسی کلمي څخه روښانه انځور نه دي وړاندي کړي خو په تیوریک لحاظ د اسلامی هیوادونو تر منځ سرحد نه مني او کله کله لکه د اروپا اتحادیی شعارونه پورته کوی.
ملت جوړوني یو عام فورمولا نه لری خو د ملت جوړولو دپاره د سوسیالوژی علم پر بنست ستراتیژیک پلان او ولسی پلوه یا دیموکراتیک قوانینو ته اړتیا لري ترڅو چي د هیواد د بیلابیلو اقوامو ترمنځ د متعادل سیاسی ، اقتصادی او ټولنیزو ارزښتونو به اساس ګډ اړخونه موندل دي او د ملت کیدل ( د نیشن هود) احساس تولیدول دی چي باید د هیواد میشت اقوام د یو قوم د انتیګریت کیدل په لړ کي د یوه سیمه نوم یا د مشیتو اقوامو د یوه لوی قوم قومی هویت دملی هویت په توګه ومنی تر څو چي ګډ سمبولیک ملی اړخ رامنځته شي او وریسي نورو سمبولیک ارزښتونه لکه ملی بیرغ ، ملی سرود وټاکي او حقوقی ، سیاسی اوکلتوری ارزشتونو په اساس قانون کي درج کړي. دا قوامو د انتی ګریشن او د ملت جوړوني د پاره قوانین باید په هیواد کي باید ډیر عادلانه وي ترڅو چي په هیواد کي بیلتون غوښتونکي او د خود ارادیت احساسات په یوه قوم کي پیدانشي نوځکه د ولت باید هڅه وکړي چي د قومی ګوندونو څخه په ټولنه کي مخنیوی وکړي اود ګوندونو قانون اساسات داسي طرح کړی چي ګوندونه د بیلابیلو اقوامو ټولنه وی ترڅو چي د قومی غوښتني ځای ملی غوښتني ونیسی نوځکه ملت جوړونه یوه تاریخی تدریجی پروسه ده چي هراړخیز ستراتیژیک پلان ته ضرورت لري. نیشن-ستیټ او یوه آزاده او غښتلی ټولنه جوړولی نشو مګر داچي ولس یو شمیر سیاسی او ټولیز ارزښتونه لکه د سیاسی نظام جوړښت، ملی ګټي، ملی هویت، ملی بیرغ، بشری حقوق او متقابل درناوي ومنی او د هغو ساتنه وکړي ترڅو چي د ولس حاکمیت او دقانون حکومت را منځته شي چي د ملت جوړوني دپاره لاره هواره کړي خو د دې دپاره چي قومونه انتی ګریټ شي او بیا په متجانسه(اسیملیت) توګه په ټولنه کي جذب شي او بلاخره افرادو په طبعی توګه( نچرلایز شي) د ټولني غړي شي او لکه اروپایی هیوادونو د سیاسی


افغان جرمن آنلاین شما را صمیمانه به همکاری دعوت می نماید. لطفاً به آدرس ذیل با ما تماس بگیرید
maqalat@afghan-german.de

قومی افکار ، احساسات او دودونه نبنه نبناني پاته نشي او د هغه ځاي ګډ ملی افکار ، احساسات ملی کلتور ځای ونیسی دا یوه تاریخي تدریجی پروسه ده چې په هیواد کې تر واحد سیاسی حاکمیت لاندې پیړی پیړی مساعد شرایطو عادلانه دولتی قوانین او متناسب اقتصادی ، ټولنیز ودې ته اړتیا لري. د ثور کودتا او وروسته د روسیی یر غل له یوې خوا کورنیو جګړو د قومی احساساتو څخه ناوړه سیاسی ګټه اخستل د بلې خوا، بهرنی مداخلې هم سبب شو چې د قومیت پربنست سیاسی انقطاب منځته راشی او د ملت جوړوني لومړی مرحله یعنې دا قوامو انتیګریشن یا امتزاج د ځنډ او خنډ سره مخامخ شي او که د هغو مخ ونه نیول شی ټولنه ( د س انتیګریشن) یا قومی جلاوالي په لور بیایی.
په شاته پاتي هیوادونو کې قومی او سیمه ییزه جوړښتونه ماتول تر ټولو ستونزمنه مساله ده خو د اروپایی ملتونو تاریخچه ښیی چي دا کار شویده او دا پروسه یوه یو تاریخی جبر ده ټولنه ارومرو مخ ته ځی او ننی تکنالوژی ،سیاسی، اقتصادی ودې او تکامل او دولتی قوانین د سل کالو مزل لسو ته کالو رسولي دی او په مجرد د دې چي په کلیو او بانډو کې امنیت تآمین شی او حقوقی او قضایی ادارات منځ ته راشي قومی شوراګانو اړتیا له منځه ځي. د ټوالنې اتنیکی تکامل او وده یوه عامه مسله ده چې د اقوامو څخه قبایل جوړیږی او قبایل که چیرې تر واحد سیاسی حاکمیت او محدود جعرافیا پاته شي ټولنه د ملت (اتنیک نیشن) جوړیدو په لور ځی.
اروپایی استعمار ګران په اسیایی او افریقایی هیوادونو کې د ملت جوړوني پروسې ته سخت تاوان رسولې دي په هره سیمه کې چې د دوي ګټه ایجابول هیواد جوړ کړي دی او یو لوی قوم په څو هیوادونوکې ویشلې دی. یو قوم په یو هیواد کې اکثریت په بل هیواد کې اقلیت دی. د مثال په توګه انګریزان کردان په څلور هیوادونو ویشل همدارنګه د عرب شبه قاره څو هیوادونو کې ویشل او هر یوه ته نړیواله رسمیت ورکړه دا د ولسونو د پاره سخته ده چې د خپل قوم سره بیلوالې ومني او پان عرب اصطلاح منځته راغی.بله ستونزه په ملت جوړونه کې چې هغه هم د استعمار او تیری ثمره ده په هیواد کې د قومی تاریخی طبعی تناسب له منځه وړل او دهغه پر ځای د سیاسی تناسب په اساس اقوام په بیلابیلو هیوادونو ویشل او هر هیواد ته سیاسی رسمیت ورکول دی چې به دغسې هیوادونو کې د هیوادونو قومی او اتنیکی جوړښت د سیاسی جغرافیا سره سمون نه خوری ده لکه د منځنی آسیا هیوادونه چې د ستالین د واکمنۍ په مهال منځته راغلل.
که چیرې استعمار ګر هیواد یوه لوی قوم په دوه یا درې هیوادونو باندې ویشی خو کله چې یو قوم وینې چې په یوه داسې هیواد کې اوسیږی چې دهغه هیواد د لوی قوم سره کلتوری اړیکې نه لری او یواځې د حکومت زور دی چې نه پریږدی خپل پلارنی قوم سره یو ځای شی نو د داسې قوم انتیګریت کول د یو بل قوم سره چې هغه سره مشترکه کلتوری او مذهبی اړیکې نه لری د هغه قوم انتی ګریت کول ډیر سخت کار دی او حتې دیموکراتیک قوانین هم په انتی ګریت کولو کې مرسته نه کوی خوله بده مرغه کله چې محکوم قوم خپل قومی احساس څرګندوی په مطبوعاتو کې دارنګه قومی بیلتون غوښتونکې احساسات چې د( سکترینیزم) سره نژدې اړخ لګوی نه د نشنلیزم سره خو د نشنلیزم تر عنوان لاندې معرفی کیږی چې قومی مبارزه د نشنلیزم یعنې ملت پالنه سره ارخ نه لګوی ځکه چې په یوه قومی ټولنه کې ملت په عملی توګه نشته چې ملت منځ ته نه وې راغلې نو نشلیزم له کومه شو. نشنلیزم د ملت د لوړو ارزښتونو په وړاندې دو فاداری بیان دی. قومی او قبیلوی ناسیونالیزم با زاری اصطلاحات ده ځکه چې لومړی باید قومی او قبیلوی جوړښتونه مات شي او ملت منځته راشي او یواځې په ملت باندی د ناسیونالیزم اصطلاح استعمالیدی شي. په قبیلوي ټولنه کی ملی هویت د قبیلوی کیدی شي چې د قبیلوی هویت څخه سرچینه اخستی وي او سره کلک تړاو و لری خو کله چې ملت جوړیږی او قبیلوي ټولنه له منځه ځي..
لرغون توران یا ترکستان په منځنی اسیا کې د ستالین د حکومت(١٩٥٤) لخوا د سیاسی او ستراتیژیک ضرورت په اساس په شپږ هیواونوکې وویشل شول چې د هغوی کلتوری او اتنیک جوړښت سره سمون نه خوری مثلآ په ازبکستان کې ډیر تاجکان میشت او ترڅو چې تاجکستان موجود وی ځان ازبک نه بولي او د ازبکانو سره په اسانی نه ادغام کیږی او په سلګونو نور مثالونه شته چې نن د یو هیواد د په بل هیواد کې مداخله کوي. همدا رنګه د استعماربله ثمره پاکستان ده او هلته د پنجابی په ګټه هیواد منځته راتلل دسیمې طبعی اتنیک جوړښت له منځه وړل شویده او ډیر وخت غواړی چې هلته پښتون،پنجابی ، سندی او بلوچ لکه انګلو- ساکسن سره انتی ګریت شي او دا پروسه کم ترکمه زر کاله مارشالا نظام او زر داني اتومی بمونه او په کورنیو جګړو کې افغانستان غواړی. ښکاره خبره ده چې د سرحد پښتانه د افغانستان سره په آسانی انتی ګریت کیږی خو هغو په پاکستان کې حقوق غواړی.په دغه سیمه کې انګریزی استعمار سبب شو چې د ملت جوړوني پروسه د استعمار قربانی شی.
د تاریخ له پلوه ملتونه په دوه ډوله منځته راځي.
١-Civic Nation (مدنی ملت) دوهم- د اقوامو پر بنست ملت Ethnic Nation
مدنی ملت هغه ملت ته ویل کیږی چې په هیواد کې د ولس تر منځ سیاسی ، اقتصادی کلتوری او ټولنیزې اړیکې د نژاد او قومیت پر بنا نه ولاړ وي او دهغه پر ځای د فردی حقوقو پر اساس اړیکې ټینګ شوی وي.مدنی ملتونه په


افغان جرمن آنلاین شما را صمیمانه به همکاری دعوت می نماید. لطفاً به آدرس ذیل با ما تماس بگیرید
maqalat@afghan-german.de

کانادا ، متحده امریکا،استرلیا او اروپاکې ښه مطا لعه کیدی شي. د مثال په توګه کانادا نن یو مدنی ملت ګڼل کیږی. لکه چې ما ویل په ملت جوړونې د هیواد د جوړیدو څرنګوالې ډیر اهمیت لری. کانادا د نیو فرانس (۱۶۰۳-۱۷۶۳) په نامه دفرانسې مستعمره وه اوبیا د انګلستان د امپراتوری مستعمره (۱۷۶٤-۱۸۶۷ ) شوه. کانادا په ( ۱۸۶۷/جولای ) میلادی خپله خپلواکی د بریتانیا څخه واخسته. دې کې شک نشته چې فرانسویان او انګریزان د دې هیواد د دولت او د ملت بنست اینسودونکې دي او دا هیواد د فرانسوی او بریتانیوی د کلچر پزبنسټ جوړ شوی دی او د نورو هیوادونو مهاجرین چې هلته د سیاسی یا اقتصادی ستونزی پر بنا کانادا ته راغلی دي د انګلیسی او فرانسوی کالچر اساسات او د کانا د دولت قوانین منلی دي او دهغه هیواد ملی هویت ترلاسه کړی دي. کانادا چې د یو کلی نوم ده او په ټول هیواد کې د هیواد دنوم په توګه منل شوی دي. مدنی ملت جوړول په هغه هیوادونو کې چې د هیواد جوړښت د بیلابیلو هیوادونو د مهاجرینو یوه ټولیزه وي او هلته ولس پلوه قواننین او لوړ اقتصاد واکمن وي د افرادو انتګریشن ، اسمیلیشن او نچرلایزه شن پروسې او د ملت جوړونې بهیر اسانه ده نسبت په هغه هیوادونو کې چې هلته منظم قومی جوړښتونه او قومی رقابتونه هلته موجود دي.

دمثال په توګه د کانادا هیواد د مهاجرینو یوه ټولنه ده او نن شل فیصده نفوس د هغه هیواد متولدین نه دي بلکې په سیاسی یا اقتصادی دلایلو خپل ټاټوبې خوشې کړی او په اګاهانه توګه د کاناد ملی هویت او اساسی قانون منلي دی او عین پروسه په استرلیا ، امریکا او لویدیز اروپاکې ادامه لری.

په ټولیزه توګه نن په نړی کې دواړه مدنی او قومی ملت جوړونې بهیر روان دي د یوه هیواد اتباع په مختلفو دلایلو د بل هیواد ملی هویت منی. همد لته ده چې د مدنی ملت جوړونه دپاره نژاد، قومیت،مذهب او کلتوری ارزښتونه خنډ ګرځیدلی نشي ځکه کله چې یوفرد د بل هیواد سیاسی تابعیت منی د هغه مذهبی او کلتوری حقوق محفوظ پاته کیږی چې هغه ته د مولتی کلچری دولت وایی. ساینس او تکنالوژی یا مودرنیتې د ملت جوړونې تګلار ته بدلون ورکوی او نړی د ګلوبلایزشن په لور ځي ، د اروپا د یووالې ټولنه د انتر ناسیونال په تیوری د بطلان کرښه کش کړه.

اتنیکی مبارزه د ملت جوړونې او دهغه تیوری یعنې نشنلیزم په وړاندې ستر خنډ ګڼل کیږي خو کمونستان قومی او اتنیکی مبارزه نشنلیزم بولی چې نادرسته تعریف ده.

Ethnic Nation دوهم- د اقوامو پر بنست ملت

د تاریخ له پلوه د یو اصل په توګه لوی قوم یا غښتلی ډله د دولت بنست ایږدی او هیواد جوړوی اود خپل کلتور په اساس د هیواد نوم ټاکی او هغه ته سیاسی ولسی هویت یا په ننی مفهوم ملی هویت ورکوی او خپل کلتوراو دین په هغه کې خپروی. نور اقوام چې په هیواد کې اوسیږی د سیاسی حاکمیت د کمیت په لحاظ یا د کلتوری کیفیت او پراخوالې په لحاظ د واکمن نظام سیاسی حاکمیت او دهیواد نوم منی او تر حاکمیت لاندې په هیواد کې میشت اقوام سره انتی ګریت کیږی او یا برعکس حکمیت دبل قوم نه منی او د خپل هیواد د جوړولو په لټه کې کیږي او د تنازع بقا حالت منځ ته راځي.

د دریم میلادی پیړی څخه راپه دي خوا په اروپا کې ډیر اقوام او قبایل سره مدغم شوی دي. د مثال په توګه د فرانک او ګول قبایل د مدغم کیدو څخه وروسته دوه سوه کاله دمخه د فرانسې په هیواد کې د فرانسې ملت منځ ته راغلی او په سل ګونو نور قبایل په اروپا کې موجود ؤ چې نن سره مدغم شوی دی او په اروپایی هیوادونو کې خلک اوس په هغه قبایلو پورې ځان منصوب نه بولی.

خوپه افریقا ، لاتین امریکا او د آسیاپه قاره کې قبایلی او قومی جوړښتونه او د فیودالی سیاسی او کلتوری دودونه په خپل قوت کې دی او د یوه و ا قعیت توګه د دوی سیاسی موجودیت په دولتی قوانینو کې ذکر شوی دی.

په افغانستان کې که چیرې د حاکم دولت له خوا د نشنل انتیګرشن د پلان په اساس یوه داسې سیاسی ، اقتصادی او ټولنیز شرایط منځته راوستل شي نو قومی او قبیلوی جوړښتونه به په تدریجی توګه له منځه ولاړ شي.

البته د ملی یوالې یا نشنل یونتی د پروسې هدف دا دی چې د افغانستان اقوام د هم زیستی مسالمت آمیز یاسوله اییز ګډ ژوند د اصلو په اساس اقوام جلا جلا ژوند وکړی مګر د نشنل یونیتی هدف په هغو هیواونو کې چې ملت جوړ شوی دی هدف دا دی چې په عمده ملی مسایلو کې د ملت اکثریت د واحد نظر اوعمل خاوند وي.په افغانستان کې په کار ده چې په مسؤلانه او آګاهانه توکه په ملت جوړونې باندې د یوه ستراتیژیک او سوسیالوژیک پلان له مخې کاروشی چې نشنل یونیتی او نشنل انتی ګریشن څنګ په څنګ روان وي او د افغانستان بیلابیل اقوام په تدریخی توګه په ښارونو ، دولتی او غیر دولتی ، تولنیز او اقتصادی او سیاسی جوړښتونو کې ګډ شي.

همداراز په کلیو او بانډو کې هم اقوامو دپاره لارې او ګوډرونه جوړشي ترڅو چې ولس سره انتی ګریت او سره جذب شي او د ولس ترمنځ ګډ سیاسی،اقتصادی او ټولنیز اړخونه یا وجوهات پیداشی چې د قومی او سیمه ییزې ګټواو کلتورونه ځای ملی ګټې او ملی کلتور ونیسی او ملی او ټولنزې ارزښتونه منځ ته راشي. په دغرو پروسو کې د ولسی پلوه یا دیموکراتیکو قوانین او ټولنیزعدالت ستره برخه لری تر څو چې د تبعیض او تحقیر ځای ملی غور


افغان جرمن آنلاین شما را صمیمانه به همکاری دعوت می نماید. لطفاً به آدرس ذیل با ما تماس بگیرید
maqalat@afghan-german.de

ونیسی او اقوام هم په اګاهانه ډول درک کړی چې کله قومی هویت په سیاسی لحاظ له لاسه ورکوی د هغه پرځای ملی هویت ترلاسه کوی او دا د تولنیز تکامل ټک لاره ده او ټولته ارومرو دقیامت ترورځې مخ ته ځي. د بلې خوا نن د قومی هویت سره هم ناممکنه ده چې څوک نړیواله پیژنګلوې ترلاسه کړي. که څه هم د ملت جوړوني بهیر یو تا ریخی تدریجی پروسه ده پیړی پیړی وخت ته اړتیالری چې قومی جوړښتونه په کلی توګه مات شي. په افغانستان کې اسلام او افغانیت دوه ستر فکتورونه دي چې قومی اوسیمه ییزی چوکاتونه ماتولای شي. د بلې خوا نن د د ساینس ، تکنالوژی ،مدیا ،عادلانه دولتی قوانین، علمی ، کلتوری هنری، ادبی ،سپورتی ټولنې او د ملت پال ګوندونو په برکت د ملت جوړونې بروسه کړند کیدی شي او په افغانستان کې ملت په عملی توګه او واقعی مفهوم به منځته راشي. ملتونه ډیر ځاګړتیاوې لری چې د ملی ګټه خوندی کول او دګورنیو بهرنیو پیښو په وړاندې ګډ تصمیم او دریځ نیول دی. د مثال په توګه ګه چیرې په اعراق کې لکه آلمان او جاپان ملت جوړ شوی وی نو به د امریکا د یرغل په وړاندی یا ټول ملت دریدلی وی او یا ټول تسلیم شوی وی خو په اراق کې ملی کتې او تاوان په شعیه . سنی او کرد باندې ووبشل شول.
په افغانستان کې دملت جوړونې او ملي ټولنې په وړاندې سترخنډ په شلم پیړی کې د هیواد کمزوري سیاسی ، اقتصادی او ټولنز وده او پرمختګ ۀ چې دالاملونه سبب شو چې قومی جوړښتونه مات نه شي او قومی او فیودالی کلتور تر ویوویشتم پیړی پوري وغزیږی او ملت جوړونه د ځنډ سره مخامخ شي.

د بلې خوا افغانستان واکمنانودملت جوړونې نشنل انتیګریشن دپاره کومه واضح پالیسي اوستراتیژي نه درلوده بی کفایت حکومتونه پدې نه دي بریالي شوي چې د ولس پلوي قوانین او ټولنیز عدالت په رڼا کې د ملت جوړونې د مدرن مفهوم دپاره د حل معقوله لاره پیـــداکړي تر څو چې اودمدني ټولنې بنسټونه پاخه شي او د قانون عمـــلي واکمـــني منځته راشي. موږ په دې باور یو چې افغانستان کې ملت جوړیږی.
کوم ملت؟ افغان ملت.

په درنښت


افغان جرمن آنلاین شما را صمیمانه به همکاری دعوت می نماید. لطفاً به آدرس ذیل با ما تماس بگیرید
maqalat@afghan-german.de